**د تجربې په وسیله متخصصین: کادار د موټر چلونې د جواز اخیستلو په اړه**

د کادار د تجربې په اړه ولولئ چې خپل د موټر چلونې د جواز د ازموینې لپاره مطالعه کوي او دا چې د موټر لرلو د هغه د کورنۍ پر ژوند څه غېز کړی دی.

د موټر لرل د یوې کورنۍ د خپلواکۍ لپاره مهم ګڼل کېږي، په ځانګړې توګه په هغو ساحو کې چې عامه ترانسپورت محدود وي. سره له دې چې د برېتانیا د موټر چلونې جواز کېدای شي یوه ننګوونکي او اوږده پروسه وي. برېتانیا [په نړۍ کې یو له خورا ستونزمنو تیوریکي ټېسټونو څخه لري.](#) که چېرته انګلیسي ستاسو لومړنۍ ژبه نه وي، نو دې ته لا ډېره اړتیا ده. په انګلستان، ویلز او سکاټلېنډ کې تیوري ازموینه یوازې په انګلیسي ژبه اخیستل کېږي.

کله چې موږ له کادار سره کېناستلو تر څو له هغه سره برېتانیا ته د هغه د سفر د تجربې په اړه خبرې وکړو، نو دا یو له کلیدي موانعو څخه و چې هغه پرې ټینګار کاوه. Bath Welcomes د کډوالو د ټولنې د ملاتړ ګروپ کادار او د هغه کورنۍ ته په 2021 کال کې برېتانیا ته د راتګ هرکلی وکړ. Bath ته د را رسېدو پر مهال کادار د موټر چلونې څوکلنه تجربه لرله، تر دې د مخه یې د HGV موټر چلوونکي په توګه کار کړی و. تر دې وروسته هغه غوښتل چې د برېتانیا د موټر چلونې جواز ترلاسه کړي او موټر چلونه بیا پیل کړي تر څو له خپلې کورنۍ سره مرسته وکړي. زموږ د خبرو اترو پر مهال کادار د تیوري ازموینې د ننګونو په اړه بحث وکړ او ویې ویل چې د موټر چلونې د جواز د هغه د کورنۍ ورځنۍ ژوند ننګولی دی او د هغه پر راتلونکو پلانونو او د دندې موندلو پر لید یې اغېز کړی دی.

د نورو معلوماتو لپاره له نوموړي سره لاندې زموږ مرکه واورئ.

**د موټر چلونې د جواز د ازموینې لپاره ستاسو د مطالعې او د جواز ترلاسه کولو په اړه ستاسو تجربه څه وه؟**

د موټر چلونې د زده کولو د تیوري زده کول په لومړیو کې د ژبې له امله ستونزمنه وه. مګر دا چاره باید ترسره شوې وای ځکه چې ما نشوای کولای له جواز پرته په برېتانیا کې موټر وچلوم. ما دا په ذهن کې ساتله او په مطالعه کې مې خورا زیات کوښښ کاوه او بالاخره له نېکه مرغه ما وکولای شول چې تیوري او عملي ازموینې ورکړم. زه په تیوري ازموینه کې له اته څلو وروسته بریالی شوم، مګر عملي ازموینه مې یوازې په یو ځل څخې سره پاس کړه. ډېر خوښ یم چې بریالی شوم.

**عملي ازموینه څنګه ترسره شوه؟ تاسو موږ ته وویل چې تر دې د مخه مو له خپلې دندې څخه د HGV موټر چلوونکي په توګه د موټر چلونې ډېره تجربه لرله.**

زما لپاره د عملي ازموینې په برخه کې هېڅ ستونزه نه وه. دا زما لپاره خورا اسانه وه ځکه چې ډېر وخت مې موټر چلولی و. هغه شخص چې له ما یې د عملي موټر چلونې ازموینه واخیستله، هغه په دې مشهور دی چې د عملي ازموینې په برخه کې ورسره کامیابېدل ستونزمن دي. مګر له نېکه مرغه ما په اسانۍ سره وکولای شول چې عملي ازموینه تېره کړم. دا ډېره د خوښۍ ورځ وه، مګر زه هغه وخت تر ټولو ډېر خوښ وم چې تیوري ازموینه مې تېره کړه. دا یقیني وه چې زه به په عملي ازموینه کې بریالی کېږم ځکه چې ما په دې برخه کې ښه تجربه لرله.

**هغه کسان چې د خپلې موټر چلونې د تیوري ازموینې لپاره مطالعه کوي، د هغوی لپاره ستاسو مشوره څه ده؟**

که شا ته وګورو، ستاسو په لومړنۍ ژبه کې د تیوري مطالبو زده کول ډېر ګټور نه دي. ځکه چې زما لپاره په عربي ژبه کې د تیوري زده کړه تل ډېره ګټوره نه وه. دا غوره ده چې لومړی دا په انګلیسي کې زده کړئ، که چېرته ستاسو انګلیسي په لوړه کچه کې نه وي. هغه کسان چې لومړنۍ ژبه یې انګلیسي نه ده، د هغوی لپاره غوره ده چې د [DVLA په وېب سایټ](#) کې موجود مطالب تمرین کړي، کوم چې په انګلیسي ژبه دي.

د هغوی د تیوري د ازموینې یوه کتنه او د تمرین برخه، د تمریني ازموینو برخه او د خطر د درک کولو او د ازموینې یو اپلیکېشن هم لري. دا د هغو کسانو لپاره ډېر ګټور دي چې لومړۍ ژبه یې انګلیسي نه ده. ما دغه لېنک له نورو خلکو سره شریک کړی دی او هغوی هم پر دې بریالي شوي دي چې دغه تیوري ازموینه سر ته ورسوي او له دې سرچینو څخه مننه کوي.

**ایا داسې نور کمپیوټري پروګرامونه یا ټلیفوني اپلیکېشنونه موجود وو چې له تاسو سره د موټر چلونې د قوانینو په زده کړه کې مرسته وکړي؟**

ما یو کمپیوټري پروګرام وپیره چې د تیوري مطالبو د زده کړې لپاره مې ترې استفاده کوله او بیه یې 80£ وه. ما له دې سره ډېر تمرین وکړ. ما همدارنګه له یوې ازموینې څخه ګټه واخیستله چې له انګلیسي څخه عربي ژبې ته ژباړل شوی و. کله چې زه پر ټولو قوانینو په عربي ژبه پوه شوم، نو په انګلیسي کې مې په مکرر ډول و ازمایل. ما خورا ډېره هڅه وکړه او بالاخره بریالی شوم.

**موټر چلونې له تاسو سره څنګه مرسته وکړه چې په ټولنه کې مدغم شئ او په Bath کې ژوند وکړئ؟**

موټر چلونې له شکه پرته زموږ په ادغام او دې وړتیا کې بهبود رامنځته کړ چې په ټولنه کې مېشت شو او د خپل د اړتیا وړ عامه خدمتونو ته لاسرسی ومومو. د ادغام لپاره د موټر لرل په مشخص ډول د ماشومانو لپاره ښه دي. هغوی ډېر ښه کار کوي او دا چې موټر لرو له اوږې څخه یې ډېر خوند واخیست. زه هغوی ډېر کله پارک ته وړم او د اوړي په جریان کې مې څو ځلې د سمندر غاړې ته یوړل او هغوی دا خورا ډېر خوښوي. هغوی ډېر خوشحاله دي. که چېرته اوس موږ وغواړو چې داسې ساحې ته لاړ شو چې هغه ځای ښه عامه ترانسپورت نلري، نو دا چاره زموږ لپاره اسانه ده. زه اوس کولای شم خپل ماشومان بوځم تر څو په سیمه کې نور ماشومان وګوري.

موټر همدارنګه له دې امله ډېر مهم دی چې خپل ماشوم پکې روغتیایي لیدنو ته وړم. زما لور ګلوکوما لري او موږ باید هغه په برېسټول کې ډېرو روغتون ته بوځو. موږ هلته له ډاکټر سره په منظم ډول لیدني لرو او وخت په وخت له ډاکټر سره بېلا بېل موارد تعقیبوو.

بل مثبت توپیر چې موټر زموږ لپاره را منځته کړی دی، هغه له مالي پلوه دی. د بېلګې په توګه که چېرته ما غوښتل چې له خپلو ماشومانو سره د ښار مرکز ته لاړ شم، نو له ټولې کورنۍ سره په عامه ترانسپورت کې هلته تلل زموږ لپاره ډېر ګران پرېوتل. زه به په ټکسي یا بس کې تللم او دا به خورا ګران وو. زما لپاره له خپلو ماشومانو سره د ښار مرکز ته په عامه ترانسپورت کې یو سفر د دوه اونیو پطرولو له لګښت سره برابر دی.

**ایا موټر چلونې ستاسو پر بودجه اغېز کړی دی؟**

دې په ځینو برخو کې له موږ سره له مالي پلوه مرسته کړې ده خو په ځینو برخو کې یې نوي لګښتونه اضافه کړي دي. د موټر د بیمې تادیه کول ډېر لګښت لري. همدارنګه دا چې زه په داسې یوه وخت کې موټر چلوم چې د ژوند لګښتونه په یوه بحراني حالت کې دي؛ په ټوله کې زما مالي وضعیت ښه شوی نه دی.

موږ له دې امله یو څه له ستونزو سره لاس او ګرېوان یو چې د ژوند لګښتونه لوړ شوي دي او توکي ډېر ګرانېږي. مګر موټر زما لپاره یو ستر توپیر را منځته کوي ځکه چې خورا ډېرو دوکانونو ته لاسرسی مونداې شم. د بېلګې په توګه په ازموینه کې له بریالي کېدو څخه د مخه، کله به چې اړ وم چې برېسټول ته د حلالي غوښې او نورو شیانو د پېرلو لپاره لاړ شم، نو اړ به وم چې ټکسي ته 80£ د تګ او بېرته راتګ لپاره ورکړم ځکه چې موږ لویه کورنۍ یو. دا یو ستر لګښت دی. ځکه خو د موټر لرل په دغه ډول حالاتو کې یو ستر توپیر را منځته کوي. زه اوس له Bath څخه برېسټول ته د تګ لپاره یوازې باید 7£ د تېلو لګښت ادا کړم. دا همدارنګه زما لپاره اسانه کوي تر څو له خپلو ماشومانو سره په مهمو لیدنو کې ګډون وکړم. ټکسي خورا ګراني دي، ځکه خو د موټر لرل موږ ته دا فرصت را کوي چې پیسې هم وسپموو. زه برېسټول ته ډېر ځم ځکه چې غواړم هلته توکي وپېرم. په Bath کې د توکو پېرل ګران دي.

**د راتلونکي لپاره ستاسو پلانونه څه دي؟**

زه خپله ټوله هڅه کوم چې دا مهال یوه دنده ومومم. ما اوس یوې دندې ته نوم لیکنه کړې ده چې د بس چلوونکی شم ځکه چې خپل تیوري او عملي ازموینې مې پاس کړې دي. زه غواړم چې د بس چلوونکی شم تر څو د خپلې کورنۍ ملاتړ وکړم.

*ډېره مننه کادارا!*